مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۷/۰۸

# د زړونو مدعا

خدای! ډیر داسي دردمن کړ ، چي یي زړونو کي رڼا وي
چي روښـــان په معرفت وي ، تر همــــــه واړو دانا وي

په وینا وو د حکمت چـي ،دا تیاره زړونه روښــــان کړي
د احســـاس یوه دنیــــا وي ، د دردو ســـــره آشنا وي

چي حکــمت په نظر ګوري ، خـــس وخار د دي ګلشن ته
چي بیدار په روح او تن وي ، د زړه ســترګي یي بینا وي

چي واقف له خــپله حــــاله ، او اسرار د دي چـــمن وي
هر لمـحي او هر نفــس یي، په خپل حـال باندی ژړا وي

چي په چوپه خوله تری هر څوک، د عبرت درسونه اخلی
لـکه ګل په خـامـوشی کـي ، په هزارژبو ګــویـــا وي

په وینــا د معرفت چـــي ،عالمــونه کړي مــدهوشـــــه
هم له دي عــالمــه پورته ، په عالـم کي د معنــــــی وي

په اوړو چي د همــت خپل ، د عـــالم بارونه یوســـــي
مهـربانه په هر چـــا وي ، کــــــــړیدو لره پــیدا وي

چي مو لـــیري کړي له مخي ، دا تیاره تیـــاره مخونه
داسي کـس خدایه!پیدا کړي ، چــــي د زړونو مدعا وي

په لیدو چي یي ، تـــکور شي ،د دردمنو زخمـی زړونه
مسیحا زمــــونږ د رنـځ وي ، پرهارونــو ته دوا وي

چي په علم کړي روښـــــانه ،دي دیوانو تیــــاره زړونه
نکته سنــــجه ســخندان وي ، ښـه تاثیر یي په وینا وي

چي په نور د معرفت یي ، وي ظـــاهر باطــن روښانه
پاک خرقی لاندی جــــامو کي ، لـه تذویر او له ریا وي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

پهويناوو د حکـــمت چي ، سر کشان لارې ته سم کړي
د خـــوږمن ژړونـــــو دوا شي ، د بی لارو راهنما وي

د فاني ژوندون له مـکره ،غــافلان ترې نه آګـــــاه کړي
چي خبر په ســست بنياد ، او مــــکارۍ د دي دنيـــا وي

سترې سترګي مـــو کـــلونه ، د دردمنو لارې څــــاري
خـــدای دي دا دردمن پيــدا کړي ،که زمونږه په دعاوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ